# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Social | اجتماعی |
|---|---|

فرستنده: فرهاد ویاړ
۱۱ اپریل ۲۰۱۲

## سیند
**کلمه زما وینه ده**

- نور
- » شعر
- موسیقي
- هنر
- سیاست
- پیل

د افغانستان کیڼ غورځنګ ښایي د تیوري د لا بډاینې او د انقلابي تیوري ګانو د دودولو لپاره بې ځنډه کار وکړي.زمونږ کیڼ او انقلابي غورځنګ په تیرو لسیزو کې د نورو هیوادونو په پرتله په دې برخه کې ډیر کم کار کړی دی او په ځغرده ویل شوو چې په دې ډګر کې پاتې راغلی دی.د همدې نیمګړتیا د پوره کولو لپاره سیند خپرندویه هڅه کوي چې د وس او توان په اندازه انقلابي تیوري، فلسفه، ادبیات او هنر له نورو ژبو پښتو ته راوژباړي، څو زموږ هغه زیارکښه هیوادوال چې مورنۍ ژبه یې پښتو ده په آسانۍ وکړای شي له دې انقلابي سیاست او ادب او هنر څخه ګټه واخلي او د لاربښود په توګه یې وکاروي.

سیند خپرندویه له ټولو انقلابي اوژمنو روڼ اندو، لیکوالو او ژباړونکو څخه په درنښت هیله کوي چې د دې جبهې د پیاوړتیا او غښتلتیا لپاره خپلې مرستې له مونږ ونه سمپوي، ځکه، آن د یوې ګټورې انقلابي مقالې په ژباړې سره تاسو انقلابي او مخکښ فکر ته کمک رسوی او دا کمك لامل کیږي چې زیارکښان پوهیایي ته ورسیږي او پوهیایي د آزادۍ لومړنی شرط دی.

سیند خپرندویه، له ټولو هغو ژباړوونکو څخه له زړه کومې مننډوی دی چې تر اوسه پورې یې بې له کوم حق الزحمې، په وړیا توګه خپلې ژباړې له دې خپرندویه سره ګډې کړي او د چاپ او خپرونو حق یې همدې خپرندویه ته بیل کړی دی.

سیند خپرندویه



آه، ښه به شی، ښه به شی، ښه به شی
اشرافان د دار پر سر دی
آه، ښه به شی، ښه به شی، ښه به شی
مونږ به اشرافان په دار ووهو

با محتویات سایت سیند از طریق لینک آتی آشنا شده می توانید:

http://seend.manifo.com

/